# د پښتنو د فولکلوري نکلونو په باب خپرو شویو اثارو لنډ تنقیدي جاج

# The Short Critical Published Updates Regarding to The Pashto Folkloric tale (Nakal)

Muhammad Rahman Rahmani *

**Abstract**

There are a lot of various types of literary classes in the wide field of Pashto Folklore, that each of them has high literary value. In this section of literature is one oral material which is called narration (Nakal). Some Pashtuns refer it as story and riddle, which represents Pashtuns' life informative sections. Habits and sometimes superstition issues as riddle.The speaker of this folkloric literature is not known and transformed orally from generation to generation by the passage of time. Narrations in addition to amusement and entertainment keeps the Pashtuns' historical events with own self. In this article a brief view is presented on the introduction and literature position. As follows a short view is presented on the authors who collected this valuable literature part from the among of the nations and published in their publications, their publications.In accordance with this issue there are eleven various publications are available, which are from Afghanistan, Pakhtunkhwa, South Pakhtunkhwa and as well the publications of eastern professors which are specified for Pashto narrations. As a result, besides the introduction of every publication, content, literature value and Method is explained and finally the used references are listed.

**Key words:**Folklore, Pashtuns' Folklore, Narration, Literature publications, literature types.

د پښتني فولکلور په پراخه لمن کښې ګڼ ډولونه او ادبي اصنافو شته، چې هر یو ئې په خپل ځاے لوړ ادبي ارزښت لري، چې د ادب په دې برخه کښې یو شفاهي توکے نکل دے، نکل چې ځینې پښتانه ئې کیسې، قیصې یا داستان بولي او د پښتنو د ژوند کلتوري اړخونه، عادتونه او کله کله خرافي مسائل د داستان په بڼه په کښې وړاندې شوي وي.

* Ph.D. Scholar, Pashto academy, university of Peshawar

د اولسي ادب د دې ډول ویونکي نه دي معلوم او خوله په خوله له یوه نسل نه بل ته د زمانې په تېرېدو سره رانقل شوي دي، نکلونه په خپل وخت سره د ساعت تېرۍ او تفریح تر څنګ د پښتنو د ژوند تاریخي پېښې هم له ځانه سره ژوندۍ ساتي.

په دې مقاله کښې لومړے د نکل په پېژندنه او ادبي مقام باندې یو لنډ نظر وړاندې شوے دے، وروسته د دغې ادبي ډول په باره کښې چې کومو لیکوالو کار کړے او دغه ارزښتناکه شفاهي توکي ئې د اولسونو له مینځه راټول او په خپلو ارزښتناکه اثارو کښې خوندي کړي دي، دغه اثارو ته یوه لنډه کتنه شوې ده.

په دې لړ کښې یوولس د بېلابېلو سیمو لیکوالو اثار چې په کښې د افغانستان، کوزې او سهیلي پښتونخوا او همدارنګه د ختیځ پوهانو هغه اثار موجود دي چې د پښتنو نکلونو ته ځانګړي شوي دي، چې د هر ادبي اثر د پېژندنې ترڅنګ ئې محتوا ،ادبي ارزښت او مېتود ته لنډه کتنه شوې ده او د لیکنې په پاے کښې استفاده شوې منابع وړاندې شوي دي.

## نکل څه ته وايي؟

نکلونه د پښتنو د شفاهي ادب یوه خوندوره برخه ده، دغه مهمه او دلچسپه ملي پانګه له ډېرې پخوا زمانې څخه د خلکو په سینو کښې پرته او د پېړیو په اوږدو کښې ئې له یوه نسل نه بل ته انتقال موندلے او په شفاهي ډول خپره شوې ده.

د نکل پېژندنه د (پښتو فولکلوري ادبیات) نومي اثر له مخې داسې شوې ده:

نکل د اولس ذوق، پوهې، زوکړې، ساتېرۍ، یو رنګین داستان یا کیسه ده، نکل مشخصه زمانه، مشخص اشخاص او ویناوال نه لري او د زوکړې زمانه ئې هم کره نه ده.[1]

نو په دې توګه نکلونه د پښتنو په هر ه سیمه کښې شته او وئیل کېږي، یو نکل چې په یوه سیمه کښې وي په بله سیمه کښې هم په خپله اصلي بڼه او یا په لږ توپیر سره وجود لري او له دې کبله دا وئیلے شو، چې هر نکل چې په کومه سیمه کښې پیدا شوے وي او وئیل کېږي د ټولو پښتنو شریک مال ګڼل کېږي.

نکلونه پر منظومې بڼې سربېره منثوره بڼه هم لري، منثوره بڼه ئې د ولس له خوا وړاندې شوې او بیا لیکنیو ادبیاتو ته ئې لاره موندلې ده. نکلونه د محتوا له اړخه عشقي، حماسي، ټولنیز، رزمي، بزمي او اصلاحي خواوې لري، دغه نکلونه مونږ ته د تېر مهال فکر او ذوق راښيي.

چې په دې اړه په (ګړني ادب) نومي اثر کښې داسې راځي:
په نکلونو کښې د محلي اتلانو کارنامې او کله کله ډېر جذاب عشقي مسايل او کله هم ډېرې خرافي او وهمي خبرې بيان شوي وي. له دې نکلونو څخه د ټولنې ټول ذهني شرايط، روحي کړه وړه او اجتماعي روابط ډېر ښه معلومېږي او د ملتونو د اجتماعي تاريخ په ليکنه کښې د ډېرو مهمو موادو په توګه استفاده ترې کېدا ے شي. معاصر تاريخ پوهان په دې عقيده دي چې د نکلونو له موادو څخه د ټولنې د اجتماعي روابطو د تاريخي سير په څرګندونه کښې ډېره ګټه اخيستل کېږي.[2]
د پښتو د نکلونو د راټولولو او وربانډې د ليکنو په ترڅ کښې ډېرو ليکوالو ليکنې کړي دي، په داخلي پوهانو کښې تر ټولو لومړنے سړے استاد محمدګل نوري د ے، بيا ورپسې سيد عابد شاه عابد، پروفېسر سيال کاکړ، غوټۍ خاورې، ميراحمد ګوربز او په را وروسته وختونو کښې علي محمد منګل، لعل پاچا ازمون،بديع الزمان هاشمي او يو شمېر نورو ګڼو ليکوالو ترڅنګ ختيځ پوهانو لکه الفنسټون، راورټي، اسلانوف او برتانوي کرنل سي. اے. بايل په خپلو اثارو کښې د پښتنو فولکلوري نکلونو ته ځا ے ورکړ ے د ے.
الفنسټېن په خپل اثر (د کابل سلطنت بيان) کښې په دې باب داسې ليکي:
له ډوډۍ نه وروسته دو ے کېني او چلم څکوي او يا د نکلونو او بدلو د وئيلو دپاره يوه دايره جوړوي. بوډايان لو ے کيسه ويونکي دي، د دو ے کيسې د پاچايانو او وزيرانو، پيريانو او ښاپيريانو دي... پښتانه د نکلونو او کيسو له اورېدو څخه ډېر خوند اخلي څه وخت چې يوه کيسه وئيله کېږي دو ے ټول چوپ ناست وي او د هغې په پا ے کښې ټول د ستاينې دپاره نارې وهي.[3]
اوس راځو هغه اثارو ته چې د پښتنو نکلونه پکښې را ټول او خوندي شوي دي،چې لومړ ے د دغه اثارو پېژندنه ، د دې اثارو محتوا او مېتود ته لنډه کتنه شوې ده. يوه يادونه چې اړينه ده، په دې مقاله کښې چې کوم اثار شامل دي، د اثارو نومونو ته په کتو د الفباء له مخې مرتب او تر بحث لاندې نيول شوي دي.

## اولسي نکلونه

د نکلونو د دې ټولګې راټولوونکے سيد عابد شاه عابد دے، چې په ۱۹۷۲ع کال د پښتو اکاډمۍ کوټه کښې د اسلاميه پريس خپرندويه ادارې له خوا په (۱۵۵) مخونو کښې له چاپه راوتے دے.

په دې اثر کښې د پښتو ولسي ادب خوندور ډول (نکلونه) راټول شوي دي، په دې کښې چې کوم نکلونه راټول شوي دي، زياتره د سهيلي پښتونخوا او د کوټې د سيمي د شاو خوا علاقو پورې مربوط دي. په دې نکلونو کښې د لاندې سرليکونو؛زيړه غوا، ژرنده باز باچا، د خراسان باچا، نيکي او بدي، ملا ټيټر او چندڼ لالا نکلونه راغلي دي.

لکه څنګه چې نکلونه د ولسونو په مينځ کښې او د هغوے په سينو کښې ساتل شوي دي، نو د دې فولکلوريکو نکلونو راټولونکے بايد د دې د ټولونې په وخت کښې د نکل د ژبې او د عامې محاورې خيال وساتي، چې په دې اثر کښې دا کار په ښه بڼه سرته رسېدلے دے، مګر د دې نکلونو ويونکي نه دي په ګوته شوي.

## پښتو نکلونه

(پښتو نکلونه) نومي انګرېزي اثر د برتانوي کرنل سي. اے. بايل له خوا ليکل شوے. نومړے د هند په نيمه وچه د برتانوي واکمنۍ پر مهال د برتانئې په پوځ کښې پوځي منصبدار و، چې په دې وخت کښې ئې د پښتونخوا په پېښور، کوهاټ او وزيرستان سيمو کښې عسکري دندې سرته رسولې دي.

نوموړي خپل اثر (پښتو نکلونه) په انګرېزي ژبه ليکلے دے،لومړے ځل په ۱۹۲۶ع کښې او په ۱۹۳۸ع کال په پېښور کښې د فقير چند مروا له خوا دويم ځل چاپ شوے دے. چې د پښتنو قبيلو او د افغانانو پر تاريخ باندې ليکنې کړي دي، دارنګه ئې د پښتو ژبې ځينې متلونه په انګرېزي ژبه ژباړلي دي، سي. اے. بايل لومړے هر پښتو متل په انګرېزي ترجمه کړے او بيا ئې ورته شرحه وړاندې کړې ده.

څېړنپوه نصرالله ناصر په خپله څېړنه کښې د دې اثر په تړاو داسې کاږي :

په دې اثر کښې چې بايل ترجمه کړے، د پښتو يو شمېر غوره متلونه په کښې راغلي دي، په لومړي فصل کښې په لنډه توګه د افغانانو يو لنډ او ژور تاريخ بيان شوے دے. لکه څنګه چې بايل د کتاب په دويم چاپ کښې يادونه کړې ده، د ده دغه اثر (پښتونکلونه) خان بهادر

احمد خان (ښايي مطلب ئې د پښتو پياوړے نثر ليکوونکے او پوخ ليکوال منشي احمد جان وي) کتلے او له ده سره د دې اثر په ترتيب او تنظيم او د پروف په لوستلو کښې مرسته کړې ده. په بله برخه کښې د پښتنو په تنظيمونو رڼا اچوي او د پښتونولۍ تر عنوان لاندې په (ننواتې، مېلمستيا، حجره او بدل) غږېږي. د بايل د (پښتو نکلونه) نومي اثر له پايليک څخه څرګندېږي ده د منشي احمد جان مشهور کتاب (د قصه خوانۍ ګپ) هم په انګليسي ترجمه کړے دے، خو تر اوسه د دغه کتاب کومه نسخه لاس ته نه ده راغلې.[4]
په دې اثر کښې ليکوال د نکلونو په انتخاب کښې له خپل ذوق څخه کار اخيستے دے. د ليکوال د ده د وينا له مخې په دې کتاب کښې شاو خوا (۳۲۳) نکلونه خوندي شوي دي. چې هر متل او نکل لومړے په لاتيني تورو ليکل شوے او بيا ورسره انګرېزي ترجمه هم راغلې ده.

## ته وايه ښه (دويم ټوک)

دا د فولکلوري داستانونو ټولګه ده چې استاد لال پاچا ازمون په زيار راټوله شوې ده. چې دا دويم ټوک ئې په ۲۰۰۹ع کال د دانش خپرندويه ټولنې له خوا په (۱۴۱) مخونو کښې چاپ شوے دے.
په دې کتاب باندې د نکل ارزښت او دا ټولګه تر سرليک لاندې ليکنه د کتاب ليکوال د دې ټولګې په پېژنده خبرې کړې دي، ورپسې د دې ټوک د نکلچيانو پېژندنه راغلې ده، په دې کښې د محمد شاه، خان اخونزاده، زما نيا (د ليکوال نيا)، فيض الله عمر او محمد سرور په نومونو کسان د دې نکلونو راويان ښودل شوي دي.
له دې وروسته تر دغو سرليکونو لاندې؛ راستي، سلطان سکندر او نېستي، شاه جهان باچا او ميربل، د باچا ښځه مزدوره شوه، د باچا ګڼلې او نا ګڼلې ښځه، شهزاده باران او اسمان پري، د باچا شرطونه بنزے او ميره مور او يو شمېر نور نکلونه چې ټول (۲۲) نکلونه کېږي، راټول شوي دي. په دې ټولو نکلونو کښې د ولس رنګ او د عوامو د ادب خوند له ورايه ښکاري، استاد د راټولو شويو نکلونو نکلچيان معرفي کړي دي. چې د فولکلور ټولونې اوسنے مېتود هم دا کار ايجابوي.

## د پښتو د فوکلوري نکلونو لنډ تحلیل

ددې اثر لیکوال عبدالباري جهاني دے لومړے چاپ په ۱۳۹۰ لمریز کال د علامه رشاد خپرندویه ټولنې له خوا په کندهار کښې په (۲۴۸) مخونو کښې چاپ شوے دے. دا کتاب د پښتو هغه ولسي نکلونو ته ځانګړے شوے چې په مختلفو مجموعو کښې خوندي شوي دي، په خاص ډول ددې کتاب موضوع (ملي هینداره) اثر دے، چې محمد ګل نوري لیکلے، د دغه اثر په نکلونو کښې د پښتنو د ژوندانه د بېلابېلو اړخونو څرکونه تر سترګو کېږي، د دغو نکلونو دغه ډول څرکونه ډېرو څېړنو او پلټنو ته اړتیا لري، څو د دغو څېړنو او تحقیقاتو په مرسته سوچه او کوټه سره بېل شي.

د کتاب لیکوال دا اثر د اروابناد محمد ګل نوري روح ته ډالۍ کړے دے، په دې اثر کښې په لاندې سرلیکونو کښې تحلیلي بحث شوے دے: ملي هینداره، د ملي هیندارې اولسي نکلونه، د فوکلوري نکونو څخه څومره ګټه اخیستلاے شو، فوکلوري نکلونه له یوې سیمې تر بلې پورې، ښامار په پښتني فوکلور کښې، پاچا په پښتني فوکلوري نکلونو کښې، هندوستان په ملي هینداره کښې، فتح خان بړیڅے، موسے خان او ولي جان، میراجان او قلندر، ادم خان او درخانۍ، د پښتنو فوکلوري تاریخ او تاریخي فوکلور او یو شمېر نورو سرلیکونو کښې بحث شوے دے.

په دې اثر کښې د پښتنو هغه پخواني نکلونه چې زیاتره پکښې د راویانو او سیمو اختلاف دے، د بېلګې په توګه د ادم خان او درخانۍ فولکلوري کیسه ده، چې تر بل هر نکل زیات ډولونه لري او له کندهاره تر سواته او لغمان پورې د پښتنو په ټولو سیمو کښې مشهوره ده او په هره سیمه کښې جلا او بېل رنګ سره وئیل کېږي. د دې په باب خورا ښه غور شوے دے.

عبدالباري جهاني له ډېرې مودې څخه د ملي هیندارې پر نکلونو باندې څېړنې کړې دي، د دغو څېړنو زیاته برخه د ملي هیندارې پر نکلونو باندې د یوې کره کتنې په شکل تر سره شوې ده. ښاغلي جهاني د یو پاخه نقاد په توګه د ملي هیندارې د نکلونو پاخه (کره) او نیمګړي اړخونه په ډېر مهارت او پوره امانتدارۍ روښانه کړي دي. د نکلونو د کره کتنې تر څنګ ئې د نکلونو په اړه د ځینو نورو هغو لیکنو کره کتنه هم کړې ده چې د ملي هیندارې په اړه تر سره شوي دي.

د اثر لیکوال په دې اړه داسې وایي:

که محمد ګل نوري د ملي هيندارې نکلونه راټول کړې نه وای، زه يقين لرم چې دا نکلونه به يا زياتره له ياده وتلي او له خاورو سره خاورې شوې وای او يا که چا راغونډ کړي وای نو په دغه امانت او دغه خوږوالي او د ولس په خالصه ژبه به نه وای راغونډ کړي.[5]

## د پکتيا نکلونه

په دې کتاب کښې د ګوربزو او وزيرو سيمه ييز نکلونه د مير احمد ګوربز له خوا راټول شوي دي، دا کتاب د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د فولکلور او شفاهي ادب څانګې له خوا په ۱۳۶۹ لمريز کال د سريزې او تقريظونو پرته په (۳۰۶) مخونو کښې چاپ شوی دی.

په دې کتاب باندې دوه تنو پوهانو يو کانديد اکاډميسن عبدالرحمن پهوال بلوڅ او بل سر محقق عزيزالله امرخېل تقريظونه ليکلي دي او د اثر ښېګڼې او نيمګړتياوې ئې ليکوال ته په ګوته کړې دي، له دې وروسته ليکوال په دې اثر باندې يوه مفصله سريزه ليکلې ده، ده په نکلونو باندې د کار څرنګوالے ښودلے، د خپل کار مېتود ئې په ګوته کړے او همدارنګه ئې د نکلچيانو او راويانو لنډه پېژندنه وړاندې کړې ده. چې له دې بحثونو وروسته ئې دا لاندې نکلونه راوړي دي:

مومن خان او شيرينۍ، ادم خان او درخانۍ، فتح خان او پردل خان، ظريف خان، سيف الملوک او سعد الملوک، کوچۍ پېغله، طالب او موچي، اسحق پادشاه، نيکے، د زمري او ګيدړ کيسه، يوسف خان، سره سنځله، پادشاه او مزدور، سلطان بلبل، د اصل او کچه معلومول، دوبي او مرغه، ښاپيرۍ او طوطي، د پادشاه ملا، د پادشاه او وزير زامن، ميرا خلاک او دا خلاک، د يوه پادشاه او درې زامنو کيسه، ډيچنګ غل، درې ورونه، هوښيار سړے، پادشاه او د دوبي لور، ناروس، ښکروره وزه، د پادشاه او دوه بنو کيسه،د دې کتاب د ځينو فولکلوري او ژبنيو اصطلاحاتو او سيمه ييزو لغاتو شرح او ځينې نورو بحثونه راوړل شوي دي.

ليکوال د خپل کار مېتود په اړه داسې ليکي:

دا نکلونه مې په لومړي سر کښې د نکلچيانو او راويانو له خوا کټ مټ په فيتو او پاڼو کښې ثبت کړي دي او د دې په ثبتولو کښې مې هغه پرنسيپونه او اصول چې د يوې فولکلوري پديدې د ثبت او خوندي کولو دپاره ضروري دي، په پوره توګه په پام کښې نيولي دي، نو له

همدې کبله د دې اثر ليکنه د فولکلور ټولونې له نورمونو سره برابره ده... د دې دپاره چې د کتاب ګټه عامه شوې وي په لومړنيو خامو موادو باندې له سره کار شوے دے او يو شمېر پاتې کارونه به ئې له چاپ نه وروسته بشپړ شي .[6]

دغه فولکلوريک اثر د داخلي او خارجي محققانو دپاره په زړه پورې ماخذ ګڼلے شو، ځېړونکي کولاے شي له دغو نکلونو او افسانو له مخې د مربوط ولس د پخواني ژوند په برخه کښې اکاډميک تحقيقات سرته ورسوي، د ښاغلي ګوربز دغه د نکلونو او افسانو فولکلوريک اثر يوه با ارزښته او قيمتي مجموعه ګڼل کېږي، نومووړي ډېر زيار ويستلے چې د ګران هېواد په داسې سختو شرايطو او حالاتو کښې يو داسې مهم کار سرته ورسوي، ګوربز دغه کار لومړے د کيسټونو په واسطه د نکلچيانو له خولې ثبت کړے او بيا ئې په هماغه اصلي شکل څنګه چې ثبت شوے په قلم ئې ليکلے دے.

## د خوند ټوټې

د دې اثر مولف جميل يوسفزے دے چې په ۱۹۹۳ع کال د پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون له خوا چاپ شوے دے.

په دې اثر کښې د کوزې پښتونخوا د يوسفزو د سيمې د خلکو ولسي نکلونه راټول شوي دي، چې ډېره خوندوره او روانه ژبه لري، د دې نکلونو جوړونکي عوام خلک دي، چې زمونږ د فولکلور حصه جوړېږي. دا کتاب په بنيادي توګه د ماشومانو دپاره ليکلے شوے دے، په دې کښې د پښتني ټولنې او په خصوصي توګه د يوسفزو د سيمې هغه اولسي او کلتوري پوهه، ګپ شپ، ټوکې ټکالې راغونډې شوي دي، چې زياتره برخه ئې د معاشرې د ژوند سره د حجرې ډېر خصوصي تعلق دے، چې دا برخې په حجره کښې د مشرانو، زلميانو او کشرانو څخه راټولې شوي دي.

## د ننګرهار نکلونه

د ننګرهار نکلونو اثر راټولوونکې اغلې غوټۍ خاورې ده، نوموړې دا نکلونه په ۱۳۶۸ لمريز کال کښې را ټول کړل، ياد اثر د فولکلور او شفاهي ادبياتو څانګې له خوا د سريزې، سر خبرو او تقريظونو او د ډيپارټمنټ يادښت چې (۳۶) مخونو کښې ځاے شوي له دې پرته نور کتاب په (۲۰۵) مخونو کښې چاپ شوے دے.

په دې کتاب لومړۍ لیکنه د اکاډمیسن کاندید محمد صدیق روهي تقریظ دے، چې دغه کار ئې ستایلے او دا ئې یو نوے کار بللے دے، بل تقریظ ورکونکے محقق میر احمد ګوربز دے، نوموړي په خپله لیکنه کښې ددې کتاب ټول نکلونه د محتوا له اړخه ډلبندي کړي او په بېلابېلو برخو ئې خپله تبصره کړې ده، دربېمه لیکنه د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د ډیپارټمنټ امر یادښت تر سرلیک لاندې لیک کړے دے، له دې وروسته د مولفې یو څو خبرې، د دغو نکلونو د راویانو پېژندنه، زمونږ د سیمې نامتو نکلچیان، زمونږ په سیمه کښې د کیسو وئیلو دود او وروستۍ خبرې د دې برخې موضوعات دي. له دې وروسته د کتاب اصل برخه شروع کېږي، د دې کتاب موضوع د ننګرهار ولسي نکلونه دي او په دې برخه کښې لاندې نکلونه راغلي دي.

لیکوالې د نکل دپاره د (کیسې) کلمه هم لیکلې ده، په دې برخه کښې د نکل په پېژندنه یو خوندور بحث شوے دے او لاندې نکلونه او د هغوے کیسې ئې بیان کړي دي، جلات خان او محبوبا، ادم خان او درخانۍ، دور بي بي او باچا، دوے بنې، دا کیسه دې بس ده که...، ګنجۍ او زوے، باچا او کوډګره ښځه، ګوډ ګرېنګن او ګنجے، بې دسته پلار، لوے ځوان او بیزو وان، یا دومره یادومره، سره سنځله، سلطان محمود او یوولس کاله شپه، انصاف ښه شے دے، سیف الملوک او بدري جماله، د سیمه ییزو لغتونو، فولکلوري او ژبنیو اصطلاحاتو، متلونو، ټوټکو او تکیه کلامونو شرح او وروستے سرلیک ئې مننه او یادونه راغلي دي.

اروابناد استاد روهي (د ننګرهار نکلونه) نومي اثر په تړاو داسې څرګندونې لري:

دغه اثر چې محترمې غوټۍ خاورې راټول کړے دے، د هغو د راټولونې په برخه کښې ئې د فولکلور څېړنې نورمونه او تکنیکونه په پوره مهارت سره مراعات کړي دي. غوټۍ خاورې د فولکلور په برخه کښې ښایسته زیاته مطالعه کړې ده، او د فولکلور څېړنې له اصولو او دقایقو سره پوره اشنا ده، د غوټۍ خاورې عالمانه سریزه چې په دغه اثر باندې ئې لیکلې، لوستونکو ته اساسي معلومات ورکوي او عمده پوښتنو ته پخپله ځواب وایي. (د ننګرهار نکلونه) لومړنۍ مجموعه ده، چې د ننګرهار د خلکو نکلونه پکښې راټول شوي دي، دغه نکلونه چې د علمي مېتود په رڼا کښې ثبت شوي، برسېره پر دې چې ځانګړے ادبي ارزښت لري. د فولکلور د مقایسوي څېړنې دپاره هم ارزښتمن مواد وړاندې کوي.[7]

اغلې خاورې په خپله د دې اثر د ليکلو او مېتود په اړه داسې ليکي:
ما له ځو کالو راپه دېخوا د کيسو راټولولو او ثبتولو سره مينه لرله، د دغې مجموعې په راټولولو کښې زه له نکلونو سره د خپل شخصي ذوق او مينې ډېره منت داره يم چې زه ئې دې ته وهڅولم چې دغه کيسې راټولې او پاک نويس کړم. ما په دې مجموعه کښې ځوارلس نکلونه راټول کړي دي او زيار مې ايستلے چې د معرفي شويو کيسه خوانانو او راويانو له خولې، دغه کيسې د فولکلور ټولونې د نوي او معاصر مېتود سره سم راټولې او ثبت کړم.[8]
دغه اثر د فولکلور اثارو په لړ کښې يو له هغه اثارو څخه دے، چې د فولکلوري مواريثو د ټولونې مېتود په رڼا کښې ليکل شوے دے، د کتاب متن چې د اولسي نکلونو ډېره خوندوره ګېډۍ ده، ليکوالې په پوره پاملرنې او پراخې حوصلې سره په خوږه او روانه ژبه ليکلے او لوستونکي دې ته اړ باسي چې له پيل څخه ئې تر پايه ولولي.

**فولکلوري قيصې**

فولکلوري قيصې (قطره قطره ګبين) د کتاب ليکوال ډاکټر علي خېل درياب دے، په پښتو فولکلور بېخي نوے اوسنے (۲۰۲۴ع) چاپ دے. چې د ګران خپروندويه ټولنه سوات له خوا په (۱۷۶) مخونو کښې چاپ شوے دے.
په دې اثر باندې له فهرست وروسته د يو شمېر ليکوالو او پوهانو نظرونه وړاندې شوي دي، چې په دوے کښې لومړے نظر او ليکنه (نکل او حکايت د يوه قوم او ژبې لويه فرهنګي زېرمه) د پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون ده، که څه هم دې ليکنې ته په فهرست کښې د استاد (اصف صميم) نوم ليکل شوے دے، (د ګبين قطرې) د ډاکټر اسماعيل ګوهر، قطره- قطره- ګبين) کلثوم زېب او (انګبين) د ډاکټر علي خېل درياب ليکنه ده.
پورته ليکوالو د قيصو په دې ټولګه باندې کابو (۳۰) مخه ليکنه کړې، چې له دې وروسته د کتاب اصل برخه چې نکلونه او حکايتونه دي، په دې ډول راوړل شوي: پير او منرک، د لور واده او د پلار ګډا، د کفن کښ پلار، نائي او جاله، د باد شاه ازمېښت، د قاتل وژنه او داسې نورې چې د دې حکايتونو او نکلونو شمېر (۶۱) ته رسېږي.
د کتاب ليکوال د خپل اثر د کار او مېتود په اړه داسې ليکي:
دې ټولګه کښې ما د دغه يو شمېر اړخونو نه د پښتني کلتور يو اړخ راخيستے دے. کوم چې د بيانيه نثر د وړو وړو قيصو سره اړه لري. دغه قيصې ما په مختلفو وختونو کښې د مشرانو

د خولې نه اورېدلي دي. کله په حجره جمات او کله د پولې پټي په غاړه، دغه شان يا مې په لاره، کوڅه او مجلسونو کښې اورېدلي دي او وخت په وخت مې خوندي کړي دي.[9]
ولې د کتاب ليکوال د دغو راويانو ذکر او پېژندنه نه ده کړې دا خبره وضاحت ته نه ده رسولې چې کله او څه ډول او له کومې سيمې څخه ئې دا قيصې را ټولې کړې دي.

**ملي هينداره (اول، دويم او درېيم ټوک)**

د کتاب مولف محمدګل نوري او مهتمم او تصحيح کوونکے، مطيع الله روهيال دے، چې د روهيال نشراتي موسسه کندهار له خوا کمپوز او ډيزاين شوے او د پښتو نړيواله مرکه کښې ئې د چاپ چارې په ۲۰۱۷ع کال په (۵۲۴) مخونو کښې سرته رسېدلي دي.
د ملي هيندارې لومړے ټوک په ۱۳۱۸ المريز کال د پښتو ټولنې له خوا خپور شو، د دې سلسلې دويم ټوک لومړے وار په کابل مجله کښې په پرله پسې توګه خپور شو، چې ورپسې په کتابي بڼه په ۱۳۲۵ المريز کال خپور شوے دے. (لومړۍ خبرې) علامه حبيبي د يوې يادونې په توګه کړي، چې ورپسې د ملي هيندارې متن پيلېږي، په دويم ټوک کښې هم اوه نکلونه راغلي، چې د ملا عباس او ګل بشرې، ظريف خان او مابۍ، خشکيار او شاترينې، قطب خان او نازو، دلے او شهو، ادم خان او درخانۍ او قلندر او ميراجان نکلونه شامل دي.
د دې سلسلې درېيم ټوک تر نسبتا اوږد ځنډ وروسته په ۱۳۵۲ المريز کال له کندهاره خپور شو، دا مهال اروابناد نوري په کندهار کښې ډېرې د غريبۍ شپې او ورځې سبا کولې، چې وروسته د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د لوے مدير اروابناد کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم عطايي (۱۳۸۰ المريز مړ) په ځانګړې پاملرنه د کندهار په دولتي مطبعه کښې د مصحح په توګه په کار وګمارل شو. چې د دې تر څنګ ئې د اروابناد نوري د ملي هيندارې درېيم ټوک هم د احمد شاه بابا د کتاب چاپولو موسسې له خوا خپور کړ.
د اروابناد نوري ملي هينداره په اولس کښې دومره مقبوله وه، چې په اړه ئې ښاغلي محمد معصوم هوتک ليکي :
د ملي هيندارې د کتاب په خطاطۍ باندې د خطاطانو اوږې کږوږې او په چاپولو باندې مطبعې ستړې شوې، خو لوستونکي ئې ستړي نه شول او د نورو چاپو په تمه دي[10].
په يو ولس کښې په دومره مقبوليت د يوه کتاب منل دا ثابتوي، چې دا په حقه سره ملي هينداره ده او ټولو هغو ملي نواميسو ته درناوے پکښې شوے دے، چې د پښتنو په

قاموس کښې رانغاړل شوي دي. خو په هېواد کښې دننه د دغسې يو مغتنم اثر د ژر نه چاپېدو له کبله دغه کتاب تر هېواد دباندې په پېښور او کوټه کښې څو څو وارې چاپ شو. چې دغو چاپونو پخپل ځان کښې د ملي هينداره اصلي رنګ پيکه کړ او ښاغليو چاپوونکو ئې هغه اصالت تر پښو لاندې کړ، چې د ملي هينداره په لومړي چاپ کښې ور په برخه و، د کتاب په متن کښې د تغيراتو کچه دې حد ته ورسېده، چې يو ځل د کتاب د مولف نوم د محمد ګل نوري پر ځاے محمد کامل نوري په نوم چاپ شو.

په دې اړه ارواښاد عطايي داسې ليکي:

»بايد په خواشينۍ سره ووايو، چې پښتو ټولنې په دې برخه کښې دونه بې علاقې وه چې د (ملي هينداره) دوه ټوکه چې د ده په نامه وه په پېښور کښې د ده بې اجازې څو وارې چاپ شوه او حتے ليکوال ئې په جګ سر ژوندے و، خو نوم ئې هم غلط شو، يعني د محمد ګل پر ځاے محمد کامل ور ولوېدا ے ، دا چې په متن کښې ئې نورې څه مداخلې شوي دي، هغه لا بله خبره ده خو دغه زمونږ د ملي ادب پالونکي او ساتونکي موسسې په دوو تورو هم ددغې غلطۍ يادونه ونه کړه.[11]

د پښتو په فولکلوريکو اثارو کښې ملي هينداره هغه اثر دے چې تر بل هر اثر د ملي کلمې واقعي معنا پکښې نغښتې ده، دغه اثر د ارواښاد محمد ګل نوري په همت راټول او ترتيب شوے دے. ددې اثر په نکلونو کښې د پښتنو د ژوندانه د بېلابېلو اړخونو څرکونه تر سترګو کېږي. دغه ولسي نکلونه د ډېرو پلټنو ته اړتيا لري ترڅو د دغو څېړنو او تحقيقاتو په مرسته کره او ناکره سره بېل شي .

په دې وروستيو کلونو کښې د دغه اثر په نکلونو باندې نامتو کره کتونکي او شاعرعبدالباري جهاني يو تحليلي اثر هم خپور شوے دے ، چې په ټوله کښې د ملي هينداره ارزښت لاثابتوي. چې په يوه برخه کښې ئې په اړه داسې نظر وړاندې کوي:

محمد ګل نوري د يو ښه ناظم په حيث کولاے شوا ے چې د نکلونو په نارو کښې لاس ووهي او نظم ئې ورته برابر کړي خو هغه د يو امين فوکلوريسټ په توګه يوازې هغه څه ليکلي دي، چې له خلکو ئې اورېدلي دي.[12]

محمدګل نوري نه یوازې د فولکلوري نکلونو په ټولولو بسیا کړې، بلکې ده د لنډیو، نارو، متلونو، پښتو محاورو او اصطلاحاتو او د پښتنو د فولکلور د هرې برخې راغونډولو او د کاغذ پرمخ خوندي کولو ته ئې ملا تړلې وه.

محمد ګل نوري له دغه فخر بس دے

لوڅې کړي ئې د پښتو په خدمت پښې دي [13]

دے د خپلې دغې ادعا په باب په بشپړه توګه صادق دے، ده د ننني ادعا لرونکو ماهرانو په توګه ځان ته دا حق نه و ورکړے، چې د کومې اولسې وراشې، لغت، او اصطلاح په باب دې په جرئتمندۍ سره د غلط حکم صادر کړي. ده ته د خپل نکلچي انتخاب او وینګ مهم و او هغه څه ئې ثبتول، چې اولس ئې په خپله ورځنۍ محاوره کښې کارول. دا کار د ده اکاډمیک دیانت دے، چې اوښاد نوري دا دیانت درلود، د همدې دیانت پایله ده، چې دې کتاب ته په پښتنو کښې دومره عام مقبولیت ور په برخه شوے دے.

په ملي هنداره کښې چې څومره نکلونه راغلي، ټول د پښتون ټبر د فطرت او طبیعت د څرګندو نښانو ښکارندویه دي، دې ډول نکلونو د خلکو په روحیاتو او د دوے پر اخلاقو او تربیه باندې ډېر ښه تاثیر دلودلے او دا لامل دے، چې د ملي هندارې د نکلونو تر ترتیب پورې ټول نکلونه سینه په سینه د فولکلوریکې خزانې په څېر له یوه نسله بل ته رانقل شوي دي. د ټولو پښتنو په کورونو کښې په تېره بیا د کندهار په ښار کښې خو ډېر لږ داسې کورونه پیدا کېږي، چې د ملي هندارې کتاب ونه لري، چې دلته ئې ځینې اړخونه غواړم تر بحث لاندې ونیسم.

د ملي هندارې په نکلونو کښې کلتوري او عنعنوي مسایلو ته خورا زیاته اشاره شوې ده، لکه ولور، تربورګلوي، قبیلوي جنګونه، په کوچنیوالي یا حتے د مور په نس کښې د ماشومانو په نکاح کول او داسې نور. خو څرنګه چې دا کیسې د خلکو له منځه څخه راوتلي او خلکو دې شیانو ته پخپله عقیده درلوده، نو خورا بې طرفانه او په احتیاط برخورد ورسره شوے دے. حتے داسې معلومېږي، چې په دې نکلونو کښې پورتني مسایل حق بلل شوي دي، خو یوازې هغه چا چې په ظالمانه ډول ولور اخسته یا د یو مظلوم یا بې ګناه انسان سره تربورګلوي او دښمني کوي، د رمز په ژبه یا د نکل د نتیجې په وسیله بد وئیل شوي دي، د بېلګې په توګه دا برخه ئې د موسے جان او ولي جان په نکل کښې ښه په ګوته کولاے شو.

په هر صورت ملي هنداره هغه کتاب دے ، چې مولف ئې په خورا احتياط د نکلونو په راټولولو کښې زيار ايستلے دے ، د نکلونو په لهجه ئې ډېر لږ غرض لرلے او ډېر لږ ئې وربانديې خپل اديبانه الفاظ راوړي دي. اکثره نکلونه کټ مټ د خلکو په لهجه راټول شوي دي، چې دا کار اسانه نه دے .

**ولسي هينداره**

د دې فولکلوري اثر مولف ښاغلے محمود مرهون دے ، دغه اثر د کائينات څېړنيز او ژباړې مرکز د خپرونو په لړ کښې په (۱۷) نمبر سره په ۱۳۹۳ المريز/۲۰۱۵ع کال کښې په (۲۳۰) مخونو کښې چاپ شوے دے .

په دې اثر باندې د کتاب ليکوال د پيل په خبرو کښې د کتاب د ليکنې لاملونه ښودلي دي، په دې کتاب کښې له سريزې وروسته د پښتنو په ځانګړې ډول د کندهار د سيمې ولسي نکلونه راټول شوي دي، د ليکوال په خبره چې په ۱۳۹۲ المريز کال د کندهار د سفر په مهال دې فولکلوري پانګې ته متوجه شوم او د ځينو مشرانو په غوښتنه مې دغه کار ته ملا وتړله.

په دې اثر کښې شاو خوا (۳۵) سرليکه ولسي نکلونه راټول شوي دي، په دې ولسي نکلونو کښې داسې نکلونه هم شته چې په نورو کتابونو کښې په بېلابېلو شکلونو خوندي شوي دي، خو بايد ووايم چې فولکلور د ټولو پښتنو ګډه پانګه ده، مګر د سيمو لهجې او رواياتونه ئې توپير لري، په هر حال ليکوال خپل کار په امانتدارۍ او علمي توګه سرته رسولے دے .

**ولسي کيسې او نکلونه**

د دې اثر مؤلف الحاج محمد نادر سرشار سالارزے دے ، دا اثر په ۱۳۹۵ المريز کال په پېښور کښې چاپ شوے دے . چې ټول (۸۵) مخونه لري.

په دې کتاب باندې تر هر څه مخکې د ليکوال (خپلې خبرې) راوړل شوې دي، ورپسې د (دا کيسې او دا نکلونه) تر سرليک لاندې د سيد امر الله اميد ليکنه ده، چې نوموړے د دې ټولګې سکښتګر او د متن سموونکے هم دے ، چې د دې ليکنو وروسته مخامخ د پښتو په نکلونو لاس پورې کوي.

په دې اثر کښې ليکوال ولسي کيسې او نکلونه راټول کړي او اراده ئې کړې، چې د کتاب په بڼه ئې لوستونکو ته ورسوي، د دې کتاب هر نکل او کيسه په خپل ځاے د لوے پيغام او ارزښت لرونکې ده. په دې کيسو کښې د پښتون ولس خصوصيات پېژنو، مونږ د خپل ولس

او خلکو لـه ارزښـتونو، دودونـو، همـت، جرئـت، پښـتونولۍ، مېړانـې او کـورني ژونـد پـه اړه خبروي. ددې ټولګې لیکوال د خپلې لیکنې په ترڅ کښې لیکي، چې ما د پښتو د ژبې سره د مینې او د یو پښتون پـه توګـه د خپـل مسؤلیت د ادایـنې پـه موخـه دا ولسـي کیسـې او نکلونـه راټول کړي دي، خو دا ئې نه ده واضـح کـړې چې دا نکلونه او ولسـي کیسـې ئې لـه چـا څخـه روایت کړي

# حوالې

[1]پوهنوال دوکتور لعل پاچا ازمون، پښتو فولکلوري ادبیات، یار خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۷ل، ۲۲۰مخ.

[2]عبدالکریم پتنګ، ګړنۍ ادب، د افغانستان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه،کابل، ۱۳۵۷ ل، ۶۸مخ.

[3]. مونټ ستیوراټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، د ډاکټر م.ح کاکړ او نصرالله سوبمن ژباړه. د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، ۱۳۵۹ل، ۲۴۷مخ.

[4]څېړنپوه نصرالله ناصر، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان علومو اکاډمي، ۱۳۹۹المریز، ۱۰۷مخ.

[5]عبدالباري جهاني، د پښتو د فوکلوري نکلونو لنډ تحلیل، علامه رشاد خپرندویه ټولنه،کندهار، ۱۳۹۰المریز، ۸مخ.

[6]میر احمد ګوربز، د پکتیا نکلونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۹المریز، ۲۳مخ.

[7]غوټۍ خاورې، د ننګرهار نکلونه، د فولکلور او شفاهي ادبیاتو ډیپارټمنټ، ۱۳۶۸المریز، ۴مخ.

[8]پورته اثر، ۳۱مخ.

[9]ډاکټر علي خېل درياب، فولکلوري قیصې، ګران خپرندویه ټولنه، سوات، ۲۰۲۴ع، ۲۸مخ.

[10]محمد ګل نوري، ملي هینداره (۱، ۲، ۳ټوک) د روهیال په اهتمام، روهیال نشراتي موسسه، کندهار، ۲۰۱۷ع، ۱۴مخ.

[11]همدا اثر، ۱۴مخ.

[12]عبدالباري جهاني، د پښتو د فوکلوري نکلونو لنډ تحلیل، علامه رشاد خپرندویه ټولنه،کندهار، ۱۳۹۰المریز، ۱۰مخ.

[13]همدا اثر، ۹مخ.

**References**

1.Pohanwal Ph. D Lal Pacha Azmun, Pakhto Folklore Adabiat, Yar Khparanduya Tolana, Jalal Abad,1397,220 Makh.
2.Abdulkarim Patang, Garani Adab, Da Afghanistan Aloumo Academe, Kabul, 1357,68 Makh.
3.Mont Storat Alfanstan, Da Kabul Sultanat Bayan, Da Dr, M, H Kakar Aw Nasrulah Subman Zbara, Aloumo Academe,1359, 247 Makh.
4.Seranpoh Nasrullah Nasar, Da Pakhtani Folklor Da Chape Majmo Serandud, , Da Afghanistan Aloumo Academe, Kabul, 1399, 107 Makh.
5.Abdulbari Jahani, Da Pakhto da Folklore Nakloni Land Tahlil, Rishad Khparanduya Tolana, Kandahar,1390,8makh.
6. Mirahmad Gorbaz, Da Paktia Naklona, Da Afghanistan Aloumo Academe, Kabul, 1369, 23 Makh.
7. Goti Khawre, Da Nangarhar Naklona, Da Folklor Aw Shafahi Adabyato Department,1368,4 Makh.
8. Porta Asar, 31makh.
9.Dr, Ali Khel Daryab, Folklore Qise, Gran Khparanduya Tolana, Swat,2024,28makh.
10. Mohammad GUL Noori, Mili Hendara, Rohyal Nasharat, Kandahar,2017, 14 Makh.
11.Porta Asar,14 Makh.
12. Abdulbari Jahani, Da Pakhto da Folklore Nakloni Land Tahlil, Rishad Khparanduya Tolana, Kandahar,1390,10makh.
13. Porta Asar,9 Makh.